عبدالكريم طالب رحيمي



عبدالكريم طالب رحيمي

## كندهار

## د عظمتونو د برمه ډك انګړ او د ويښنو ځلميانو وياړلی سنګر

مقدمه :

د افغانستان په معاصر تاريخ كښې د لرغوني كندهار سياسي تاريخ د ځانګړې برم په لرلو سره د ستاينې او وياړني وړ دئ.

هو! د نوي افغانستان د سياسي او ټولنيز جوړښت لمر څرك چې د ستر حاجي ميرويس خان په اتلوال سياسي نوښت له كندهاره پيل او د لوی احمدشاه بابا په مدبرانه قيادت او مشري بشپړ سو يو وار بيا يې هيواد ته نړيوال عظمت ور په برخه كړ، نو له هغه وخته د هيواد د سياسي برخه ليك په ټاكنه كښې كندهار تل كارنده اساسي نقش لوبولی دئ. د خپل پلار او نيكه پر پله لاړيو ننګياليانو او غازيانو او د توري او قلم اتلانو ټاپې پر ټاپې ددې مېړه پالونكي خاوري د ژغورنې په لار كښې داسي اتلواله سربښندونكي مبارزې كړې دي چې د هيواد تاريخ خو لا څه چې د نړۍ تاريخ يې ستاينه كوي. لكه غازي وزير محمداكبر خان، غازي محمدايوب خان، اعليحضرت غازي امان الله شاه او نور چې تل د هيواد د ملي اتلانو په نومونو نومول كيږي او هر يو د وياړنې ځلانده ستوری دئ، څو چې افغانستان وي د امان الله شاه نوم به په درنښت سره يادېږي. ځكه د هغه اتل د سياسي جسارت په نتيجه كښې د افغانستان سياسي آزادي او استقلال د هغه وخت د ستر ښكېلاكګر زبرځواك يعني انګرېزي استعمار څخه ترلاسه سو او هم لومړی ځوك و چې د افغان ربړېدلی او ستم ځپلي اولس څخه د پرله پسې كلونو كلونو مستبدو، ظالمو واكدارانو د وهلو، ټټلو، بندي كولو او زندی كولو د ظلم او جبر توره كمبله ټوله سوه او په دې توګه د تاريخ دغه مېړني روښان ضميره اتل افغاني ټولنې ته د انسانانو د طبيعي حق په توګه د فكر او بيان آزادي، اجتماعي عدالت، مساوات او نوري مدني ښېګڼې سوغات او ډالی كړې، او هم يې په هر اړخيزه ټولنيزو ريفورمونو لاس پوري كړ، څو په هيواد كښې يوه غوړېدلې مدني ټولنه رامنځ ته كړي او په دې توګه د هيواد مشروطه غوښتونكو شهيدانو او ژونديو روښانفكرو ملي ارمانونه تر سره كړي.

د بده مرغه زموږ د هيوادپالو ملي ارمانونه لا نه وه بشپړه سوي او د اعليحضرت امان الله شاه بنيادي پلانونه لا نه وه پياده سوي چې زموږ پر طوفاني هيواد د سقاوي تاړاك تروږمی خپله توره لمن خپره كړه او د بلا ساه پر ټول ملك مستولي سوه.

خو دې دورې زيات دوام ونه كړ څو د غازي محمد نادر خان په مدبرانه مشري دغي توري دورې خاتمه وموندل. كه څه هم د حكومت په بدلون ملت د يوه بحراني ورور وژونكي حالت څخه وژغورل سو خو په سياسي لحاظ يوه استبداد د بل استبداد پر كُرسی ډډه ولګول، په تېره بيا د سردار محمدهاشم خان حكومت په استبدادي لحاظ يوه بله عبدالرحمن خاني رامنځته كړه. د ارواښاد محمد علم بڅركي په وينا د افغانستان هرڅو ميليونه نفوس چې وو ټول د ژونديو بُتانو په څېر وو، چې ټوله آزادي يې سلب سوي وې، د دولتي استخباراتو او جاسوسانو له بيري چا په كور كې هم د دولت او سياست په هكله څه نه سوای ويلای او په خلكو كې دا يوه شايعه ګرځېدلې وه چې اوس دېوالونه لا هم خبري كوي. كله چې د سقاوي وحشت ځپو او تر هغه وروسته د سردار محمدهاشم خان استبدادي حكومت د فكري آزادی دروازې وتړلې او د روښانفكره قشر كومی يې د اختناق په زهرو ولړی او پر ټول هيواد د ظلم او ستم توره تبه وغوړېده، نو د ويښ احساس لرونكي روښانفكران يې د خپلو اسلافو (مشروطه غوښتونكو) ملي مبارزينو په څېر خپل تاريخي رسالت ته وګومارل څو د عصر او زمان د ايجاباتو سره سم منسجمه ګوندي مبارزه پيل كړي.

### د ويښنو ځلميانو د ګوند د جوړېدو عوامل :

څرنګه چې له علمي پلوه هره پديده د خپل چاپېريال او زمان له عيني او ذهني شرايطو سره علمي او منطقي سيده تړاو لري او په مجرده توګه يې څېړنه او شننه معقوله نه برېښي، نو يوه سياسي پديده هم له دغه ځنځيري تسلسل او محيطي ارتباط څخه نه سي وتلای.

دا پر ځای خبره ده چې د مستبدو واكدارانو ظلم او ستم د مظلوم ملت د صبر كاسه ډكوي او چپړوي او د سياسي خوځښت عُمده عامل رامنځ ته كوي، لكه خيرمحمد بايګان (سكندر) چې په خپل اثر (تاريخ سياسی افغانستان) كي ليكي :

"جريان هاى سياسى نداى خلق، وطن و ويش زلميان بطور مجموع نتيجه منطقى ظلم و استبداد شاهى مطلقه بر مبناى ارباب رعيتى در كشور قلمداد مى شود ..."

خو نور عوامل چې هم بايد له نظره و نه غورځول، چې د هغو د جملې څخه يو هم د خپلو وياړلو اسلافو يعني لومړی او دوهمي ډلې مشروطه غوښتونكو ملي مبارزينو قرباني او سربښندنې وې چې د هيواد پالو روښنفكرانو حساس احساسات يې راويښ كړي او پارولي دي، څو د هغو ملي ارمانونو ته تحقق وركړي.

د بلې خوا څرنګه چې د يوې سيمې هيوادونه يو له بله كلتوري او فرهنګي اړيكي لري او په ځينو مواردو كښې ګډې سياسي ګټې، عنعنوي ورته والی او مشابهتونه لري، نو سياسي مبارزې يې هم څه نا څه يو د بله تړاو پيدا كوي او يو د بله رنګ او خوند اخلي.

يو مثال يې د وخت د ستر استعماري قدرت انګرېزانو په وړاندي د افغان غيور ملت برحق پاڅون او ملي قيام وو چې د هر طاغوني قدرت د ماتولو الهام يې د سيمي د هيوادو د روښانفكرانو او ملي مبارزينو په اذهانو كښې يقيني كړ. مقابلتاً د سيمي د سياسي ګوندو د مبارزو تجربې زموږ پر سياسي مبارزو بې اغېزې نه وې.

ښاغلی نصيراحمد هنر پښتون د ارواښاد محمدرسول پښتون زوی په دې باب ليكي :

"منطقوي او جهاني شرايطو د ويښنو ځلمو په ظهور كښې بايد لاس درلودلی وي. البته په مطلقه توګه نه، بهتره ده ووايو د متقابلو اثراتو او د الهام د منبع په توګه. په دې شرح : په ۱۳۲۵ ق كال امير حبيب الله خان هند ته سفر وكړ او هلته يې ملي او فرهنګي مؤسسې وليدلې لكه د علي ګړ دارالعلوم و انجمن حمايت اسلام او نور په دې وخت كي د نوي مدنيت او صنعت آثار هم د انګرېزانو په ذريعه هند ته رسېدلي دي، امير د هغو په ليدلو متاثر سو. نو چې كابل ته راغی د مدرسې، اخبار او د علم او سواد د خپرولو فكر ور پيدا سو. اخوان افغان هم په دغه وخت كښې منځ ته راغئ چې تر ۱۳۲۷ ق كال پوري يې دوام وموند. دوی "بې بنده اقتدار او مطلق قيد" نفي كاوه.

په ايران كښې هم د مشروطيت نهضت دوام درلود او د لومړي مجلس تشكيل په تهران كښې تر سره سوی وو، ايراني روښانفكران د انتخاباتو د حقوقو د تر لاسه كولو او ملي شورا په جوړولو بريالي سوي وو خو هغه څه چې افغاني روښانفكرانو غوښتل د هغه يوه ابتدايي مرحله وه.

په روسيه كښې د تزار په مقابل كښې سوشل ديموكراتيك نهضتونه روان وو چې د اكتوبر په انقلاب منتهي سول. په تركيه او نورو هيوادو كښې هم اصلاحاتي او انقلابي هڅي رواني وې چې دغو ټولو زموږ د هيواد پر سياسي او اجتماعي ماحول اغېزه ښندل چې نتيجه يې د مشروطيت څلور مرحلې او را وروسته حركتونه سول."

مرحوم محمدعلم بڅركی د پاكستان د حكومت د ظهور په نتيجه كښې د كابل د حكومت سياسي وارخطايي يا دده په اصطلاح (سياسي تبه) د شاه محمود خان له خوا د ديموكراسی د اعلان موجب ګڼي چې روښانفكرانو ګټه ځني واخيستل او د لومړي ځل لپاره د ويښنو ځلميانو د ګوند د جوړېدو عامل سو.

د پاكستان د حكومت ظهور او د پښتونستان د مسئلې مطرح كېدل وه چې د پښتنو د ستر مشر ارواښاد خان عبدالغفار خان د (خدايي خدمتګارانو) ګوند يې په پېښور او د ارواښاد خان عبدالصمد خان اڅكزي په مشري د (وطن انجمن) ګوند يې په بلوچستان كښې او د ډيورنډ د شيطاني كرښې دې خواته يې ويښ ځلميان او نور روښانفكران ورته سياسي مبارزې ته هڅول.

ښاغلي غلام محي الدين زرملوال چې په خپله د ويښنو ځلميانو د ګوند غړی دئ د دغه تحريك د جوړېدو عوامل دوه شيان ګڼي :

۱ . په هيواد كښې اجتماعي او اداري فساد، اقتصادي ركود، پر ځای ولاړه ټولنيزه بې عدالتي او داسي نور.

۲ . د مشروطه خواهانو د قربانيو درس چې د ويښ ځلميانو منورينو ته په ميراث پاته و.

د هيواد نامتو ژورناليست او ليكوال ښاغلي عبدالحميد مبارز په خپل اثر (تحليل واقعات سياسي افغانستان) كښې داسي ليكي : "جنګ جهانی دوم كه با پيروزی متحدين انجام شده بود و در جمله متحدين ايالات متحده امريكا پيام آور ديموكراسی بود. عساكر امريكايی باخود با سقوط جاپان در كشورهای آسيايی پيام های آزادي و ديموكراسی را آورده بودند. يعنی فشار امريكا برای ديموكراسی احساس می شد، شاه با داشتن حمايت شاه محمودخان وزير حربيه سردار محمدهاشم خان را وادار به استعفا كرد ... " (۱۱۳ م)

او بل ځای (۱۱۶ م) کښې نوموړی داسي ادامه ورکوي چي :

"درست با اعلام دیموکراسی بود که شخصیت های سیاسی که سالها در انتظار تنفس آزاد بودند و تا این لحظات خود را گوشه گرفته بودند ظاهر شده و در صحنهٔ سیاسی کشور هر کدام نقشی را به عهده گرفتند. این تحول نه تنها در بین روشنفکران خارج حکومت بلکه در بین اعضای حکومت نیز پدید آمد. عبدالمجید زابلی وزیر اقتصاد ملي طبق پلان راه را برای ارتقاء نقش اش در حیات سیاسی ملی بازی کرده بود. چون از دوستی خاص با شخصیت های کابینه دوم یعنی علی احمد معاون صدر اعظم (بعداً وزیر دربار)، سردار محمدداود وزیر دفاع و برادرش سردارمحمدنعیم خان که عهده وزارت فواید عامه را رد کرده، و به حیث سفیر در لندن تعین شده بود، برخوردار بود، به جناح سردار محمدداود تکیه کرده تعدادی از روشنفکران قندهاری را مساعدت و حمایت کرده تا حزبی بنام ویش زلمیان بوجود بیاورند."

د ښاغلي عبدالحمید مبارز پورتنی ادعا د سردار شاه محمود خان د منځ ته راتګ او د دیموکراسی د وړمې چلېدل دلته د سیاسي ګوندونو د یو عامل په توګه رانقل سوه.

ځيني کسان چي د ویښو ځلمیانو ګوند په سردار محمد داود خان پوري تړاو ورکوي بېلابېل شخصیتونه په منطقي دلایلو هغه ردوي. له دې جملې څخه یو هم د هیواد نخبه شخصیت فاضل پوهاند علامه رشاد صاحب چي په خپله د ویښ ځلمیانو د ګوند د محوري او مخکښه شخصیتونو څخه و او زموږ د ننني غونډې د ویاړ علمي پانګه بلل کیږي په کلکه د ویښ ځلمیانو تړاو په داود خان پوري ردوي او وایي :

"ویښ ځلمیان یو خپلواك او مستقل سیاسي ګوند وو چي نه يې په داودخان او نه یې د سلطنتي کورنی په کوم بل غړي پوري اړه یا تړاو درلود. که چیري دا ګوند د داود خان سره سیاسي اړیکي لرلای نو دا پوښتنه رامنځ ته کیږي چي ولي د سردار محمد داود د صدارت مقام ته تر رسېدو وروسته زموږ انډیوالانو کلونه کلونه سیاسي بند وګالی؟ که ویښ ځلمیان د داود خان ملګري وای نو باید هغه سمدستي خپل ملګري د صدارت په تر لاسه کولو خوشي کړي وای. زه فکر کوم دغه تېروتنه د زابلي سره د نورمحمد تره کي ځانګړو اړیکو را منځ ته کړې ده."

ښاغلی طارق رشاد هم ددې ادعا په رد کښې لیکي چي : "داود خان د ویښو ځلمیانو د ګوند په مقابل کښې (ملي کلوپ) جوړ کړ. ځو د ملي کلوپ له لاري د هغوی سره مقابله وکړي."

دغه رنګه خیر محمد بایکان سکندر په خپل اثر (تاریخ سیاسی افغانستان) کښې لیکي چي د ویښو ځلمیانو سیاسي غورځنګ د سلطنتي کورنی په تېره بیا د سردار محمد داود خان سره سازش نه درلود.

مرحوم محمد علم بځرکی چي پخپله د ویښو ځلمیانو د ګوند یو وفادار غړی او د (ویښ ځلمیان د افغانستان یو سیاسي تحریك) د کتاب لیکوال دئ که د دغه اثر ( ۷۶ او ۷۷) مخونه ولوستل سي په قاطع توګه د داودخان د حکومت ضد موقف لري. که دا ګوند په حقیقت کښې داودخان ته منسوب وای نو د ګوند یو غړی ځرنګه د خپل مربي غندنه کوي؟

په هر صورت د زمان او ماحول د عیني شرایطو په نتیجه کښې د ویښو ځلمیانو ګوند رامنځ ته سو.

ځرنګه چي زموږ هیواد د سیاسي منظمو ډلو د جوړېدو اوږد تاریخ نه لري، که د مشروطه غوښتونکو، اخوان افغان او ملي سري جمعیت له سیاسي مبارزو څخه د نوو ګوندونو سازمان سوي منظمو شکلونو ته پام را واړوو نو د ویښو ځلمیانو ګوند لومړنی سیاسي مخکښ ګوند بللای سو چي د هیواد ټولو معتبرو مؤرخینو هم تائید کړی دئ. خو ددې ګوند د مؤسس او مشر په باب څه ملاحظات سته چي باید لیري سي.

ښاغلی طارق رشاد د خدای بخښلي لوی استاد پوهاند علامه حبیبي د یوه یاداښت له مخي چي د ویښو ځلمیانو د ګوند د بنسټ ایښودونکی ارواښاد محمدرسول خان پښتون د "آټوبیوګرافي" نومي له کتاب څخه یې اخیستی دئ داسي لیکي :

"آقای صافی (ارواښاد غلام حسن خان ساپی) در این مفکوره از سابق ( ۱۳۱۲ ش مطابق ۱۹۳۳ م) وقتیکه در مزار شریف در جملهٔ مامورین مرحوم محمدګل خان مومند وزیر داخله و رئیس تنظیمه ولایات شمال کار می کردم ملهم شده بوده. بعد در سال (۱۳۲۶ ش مطابق ۱۹۴۷ م) موقعی که من به حیث رئیس شرکت ایجنسی (افغان) از چمن به پیشاور رفته بودم آقای غلام حسن خان صافی نیز از کابل به پیشاور آمده در هوتل "دنیز" باهم یکجا شده، راجع به تاسیس یك حزب عمومی در داخل مملکت صحبت نمودیم و بر این قرار دادیم که تو در ولایات مشرقی و کابل و من در ولایت کندهار تحریك حزب مذکور را به راه انداخته هر ګاه زمانی که زمینه را تهیه نمودیم مجلس ثانی کرده حزب را تاسیس می نمائیم."

د لوی استاد د پورتنی ادعا سره د ښاغلي نصیر هنر پښتون هغه لیکنه چي ویښو ځلمیانو د ګوند په باب یې زما د پوښتنو په جواب کښې رالېږلې ده هو به هو ورته ده.

نصیر هنر پښتون د ویښو ځلمیانو د ګوند د مؤسسو په توګه د نورمحمده ترکي ادعا یا د محمد دین ژواك ادعا چي قاضي بهرام د ګوند باني ګڼي یا ځیني نور کسان چي غلام حسن ساپی یا ګل پاچا الفت او یا عبدالمجید خان زابلی د ګوند مؤسیسین بولي په کلکه ردوي. د ارواښاد محمدرسول پښتون رول د ویښو ځلمیانو د ګوند د مؤسس په توګه زیاتره داخلي او خارجي منابع تائیدوي.

"آیینهٔ افغانستان" مجله چي په امریکا کښې چاپیږي، لیکي:

"د اسنادو او شواهدو څخه داسي ځرګندیږي چي د پښتون صاحب سره د تجدد خوښولو مفکوره او په ډیموکراسي او وګړنیزو آزادیو عقیده د غازي اعلیحضرت امان الله خان په دوره کښې پیدا سوې وه ..."

د پښتون صاحب په یوه یاداښت کښې چي خپل اوښي (اخښي) مرحوم استاد عبدالحي حبیبي ته یې سپارلی و داسي لولو:

"ریشهٔ تحریك من قبل از سال ۱۳۰۷ ش در قندهار موجود بود و زمان وضع مقررات و کار سازماندهی آن در حدود ده روز قبل از اغتشاش سقوی یعنی آخر سال ۱۳۰۷ ش خواهد بود. من مرام مشروطه خواهی و تشکیل اتحادیه را به رفقای خود پیشنهاد کردم که مورد تصویب قرار ګرفت. از جمله متحدین من مرزا محمداعظم ایازی، منشی منظورمحمد، محمدکریم سرمعلم مکتب رشدیه و اولیاوالدین خان معلمان و متعلمان مکتب و غیره بودند، ا زآن جمله که درست به یاد دارم "مسلم" نام مشهور است که تا هنوز حیات دارد و در کندهار به سر میبرد."

ښاغلی سید مسعود پوهنیار بیا په خپل اثر "ظهور مشروطیت و قربانیان استبداد در افغانستان" په دوهم ټوك کښې د ښاغلي داکتر توریالي انګار (د ارواښاد فیض محمد انګار زوی) له خولې داسي لیکي :

"د ۱۳۲۶ هـ ش کال ۱۹۴۷ م کال په شاوخوا کښې د حاجي ګل محمد خان مرحوم په کور کښې چي د خدای بخښلي فیض محمد انګار پلار وو او کور یې د کابل د قرتای (کوردهای) چنداول کښې واقع وو، د منورو شخصیتونو له خوا یوه غونډه جوړه سوې وه، چي په هغه کښې له کندهار نه پوهاند عبدالحی حبیبي، محمدرسول پښتون، قاضي بهرام، عبدالهادي خان توخي، حاجي محمد انورخان اڅکزی، غلام جیلاني خان الکوزی او داسي نور او له ننګرهار او لغمان نه لکه ګل پاچا الفت، غلام حسن خان ساپی، سید شمس الدین مجروح، مولوی قیام الدین خادم، پوهاند صدیق الله رشیتن، او نور، له کابله نه میر غلام محمد غبار، ډاکتر عبدالرحمن محمودي، غلام محی الدین زرملوال، محمد ارسلان سلیمي وردګ، میرمحمداسماعیل مبلغ، میر محمد اسماعیل بلخي، او نور راغونډ سوي وو چي د ویښ ځلمیانو د تحریك په باب خبري وسوې، په پای کښې پرېکړه وسوه چي د تحریك نوم باید "ویښ ځلمیان" کښېښودل سي."

د هیواد نامتو مؤرخ ارواښاد میر غلام محمد غبار د "افغانستان در مسیر تاریخ" په دوهم ټوك کښې د دغه ګوند د تاداو ایښودلو نېټه ۱۳۲۶ ل کال ښوولې او د ګڼ شمېر شخصیتونو نومونه یې د دغه ګوند د مؤسیسنو او مهمو رهبرانو په لړ کښې درج کړي دي او مشخص ځوك یې د ګوند مؤسس نه دئ معرفي کړی.

زموږ بل مؤرخ ارواښاد میر محمد صدیق فرهنګ په خپل اثر "افغانستان در پنج قرن آخر" کښې د ویښ ځلمیانو ګوند یې د قدامت په لحاظ لومړنی سیاسي ګوند بللی او داسي لیکي :

"همزمان با تاسیس جراید آزاد و یا اندکی پیش ا زآن یك تعداد حلقه های سیاسی به شکل هستهٔ احزاب سیاسی نیز توسط روشنفکران در نقاط مختلف کشور بخصوص در کابل، قسمت مشرقی و قندهار بنیان ګذاری شد، از نظر قدامت تاریخی اولین حلقه های که بمیان آمد ویش زلمیان بود."

د افغانستان تاریخ لیکونکی کانکوفسکي لیکي چي د ویښ ځلمیانو په سیاسي ډله کښې د بیلو بیلو طبقاتي او ټولنیزو موقفو لرونکي کسانو لکه روحانیونو، روښانفکرانو، مامورینو او نورو برخه لرل او د غورځنګ لارښود د کندهار ځمکه وال محمدرسول خان پښتون وو.

د افغانستان یو بل تاریخ لیکونکی V. G. Korgun د ویښ ځلمیانو د نهضت د اصلي بنسټ ایښوونکي په هکله داسي لیکي:

Weṣh Zalmiyān ('Awakened Youths') appeared as a rather informal movement in 1947 under the leadership of Muhammad Rasul Khān Paṣhtun. Most members were men of letters and intellectuals like 'Abdurrauf Benawā, Gulpāchā Ulfat, Abdullah Bakhtāni, Qiyāmuddin Khādim and Nur Muhammad Taraki. From 1951 publications on the political agenda of this movement appeared in the newspaper Angar which was published in Kabul twice a week, but no clear program existed at the beginning. The main ideal of the movement was patriotism. Education, enlightenment, national unity and the participation of the people in political affairs were seen as the main ways to lead the people of Afghanistan out of the 'darkness of ignorance', to give the women their legal rights, to enable the people to become the pillar of a sovereign national government and to develop the economy. Later some members of this movement stood up for a constitutional monarchy system with political rights like freedom of speech, freedom of the press and freedom of political organisations.

For details see V. G. Korgun, Intelligenicya v politicheskoy zhizni Afganistana ['Intelligentsia in the political life of Afghanistan'] (Moskva, Nauka 1983) p. 52 ff.

خو اروانباد محمد علم بځرکی بیا په خپل اثر (ویښ ځلمیان د افغانستان یو سیاسي تحریك) په نهه ویشتم مخ کښي د "مؤسسین" تر عنوان لاندي داسي لیکي : "هغه کسان چي دا ډله یې جوړه کړه، په کابل کښي ښاغلی عبدالرؤف بېنوا، ښاغلی ارسلان سلیمي، جناب قیام الدین خادم، ښاغلی نورمحمد تره کی، ښاغلی فیض محمد انګار، جناب غلام حسن خان ساپی، رښتین صاحب، ډېر محترم ګل پاچا الفت صاحب دغو کسانو لومړی په کابل کښي یوه ټولنه جوړه کړې وه، او په کورونو کښي یې دوستانه مجلسونه درلودل. څرنګه چي په سیاسي ډول زمینه ورته مساعده سوه نو دا دوستانه او ادبي ټولنه په سیاسي ټوله واوښته او د ولایاتو سره یې تماس پیدا کړ".

بځرکی صاحب زیاتوی :

"په دې وخت کښي چي حزب په وجود راځي ... په کندهار کښي دغو شاه ځلمیانو کار کړی دئ او حزب یې د نیست څخه اوج ته رسولی دئ : ښاغلی محمد رسول خان پښتون، غلام جیلاني خان مدیر، قاضي عبدالصمد خان، حاجي محمد انور خان اڅکزی، مولوي محمد بهرام خان اڅکزی، عبدالهادي خان هادی، حضرت محمد یوسف آغا. او په دوهم ردیف کښي چي ځوانان وو او زیاته ونډه یې لرل داسي معرفي کوي :

ښاغلی عبدالشکور رشاد، آغامحمد خان کرزی، محمدابراهیم خواخوږی، حاجي محمدحسین خان، محمد حسین رېدی، صوفی ولي محمدخان، محمدعلم بځرکی، نوراحمد شاکر، شېراحمدخان، محمدعلي خان، حاجي لعل محمد خان، محمد آصف خان او مسلم صاحب."

د ویښ ځلمیانو د ګوند کړنلاره او هدف :

اروانباد غبار د ویښ ځلمیانو د ګوند د کړنلاري په اړوند په افغانستان در مسیر تاریخ کښي داسي لیکي :

"مرامنامهٔ حزب ویش زلمیان از این قرار بود :

اول : تنویر افکار و تعمیم معارف.

دوم : مجادله با ظلم و خیانت.

سوم : اصلاح عادات سیئه و خرافات.

چهارم : همراهی حق و حقانیت.

پنجم : ایجاد وحدت ملي."

د ګوند لومړنی مرامنامې څلور فقرې لرې او یوه لوړه او قسم هم ورسره ضمیمه و چي ګوندي غړو د لوی خدای په مقدسو نومونو لوړه کول چي خیانت به نه کوي او د ګوندي اصولو به په اخلاص او صداقت ملاتړ کوي. د ویښ ځلمیانو هدف د فکر او بیان آزادي او د دیموکراسی تامینول، د ظلم او اختناق د منځه وړل، د بې عدالتی سره مبارزه کول، ملي یووالی رامنځ ته کول او یوه پر مخ تللې مدني ټولنه جوړول وه.

وروسته د ۱۳۲۸ ش کال د اسد پر ۲۷ مه نېټه تر پورتنی کړنلاري یو بل مفصل مرام په کابل کښي خپور سو : (وګورئ د ویښ ځلمیان د افغانستان یو سیاسي تحریك) ۳۶ مخ.

وریسې بل مرام په ۱۳۲۹ هـ ش په لسو مادو کښي خپور سوی دئ (وګورئ د پورتني کتاب ۴۴ _ ۴۵ مخونه)

ویښ ځلمیانو د خپلو خلکو د تنویر او د خپلو افکارو د تعمیم په ملحوظ یوه جریده د (انګار) په نامه چي د امتیاز خاوند یې اروانباد فیض محمد انګار و د لومړي ځل لپاره د چاپه را وایستل. ښاغلی محترم عبدالحمید مبارز په (تحلیل واقعات سیاسی افغانستان) کښي لیکي :

"اولین نشریه که در پرتو دیموکراسی اول بوجود آمد جریدهٔ انګار بود که به امتیاز و مدیریت مسئول فیض محمد انګار به نشرات آغاز کرد".

ښاغلی مبارز د انګار خپرونه د ویښ ځلمیانو د ګوند د افکارو خپرونکې ګڼي چي انتقادي بڼه یې درلوده، او زیاتره یې حکومت په څرګند یا په کنایه کښي تر انتقاد لاندي راوستی، ځکه نو ځینو محافظه کارو لیکوالو دغه صراحت د لهجې تندروی بللی او د دیموکراسی د تکمیل د ټولېدو سبب یې شمېري خو ځینو روښانفکرانو بیا د لویه سره هغه دیموکراسي موقتي او تقلبي ګڼله، څرنګه چي د ویښو ځلمیانو د رهبری غړي او د دوی معاصر د وطن ګوند او د خلق ګوند (د محمودي د خلق ګوند نه د نور محمد تره کي د خلق ګوند) د رهبری کدرونه د هیواد پالي روحیې، سیاسي بصیرت او تقوا او سیاسي اخلاقو څخه برخه من وو ټولو د یوه هدف په لور چي د فکر او بیان د آزادی له لاري د بې عدالتی، ظلم او اختناق له منځه وړل، د پوهې تعمیم او پراختیا، د امنیت او مصئونیت منځ ته راتلل، او د دیموکراسی د تحقق په نتیجه کښي یوه مترقي مدني ټولنه جوړول وه مبارزه کول چي دغه د دوی د سیاسي پخوالي صفتونه وو او داسي سرتېره مېړني هم د دوی په لیکو کښي وو چي د ملي او ولسي کټو په لار کښي یې ځانګړي کټي سپلنی غوندي دودولې. بندیخانې او زندانونه یې منل، مګر زر او مقامونه یې ضمیر او وجدان نه قبلول.

د (انګار، ولس ، خلق او ندای خلق) په خپرونو کښي د سیالو ګوندو مضامین خپرېدل، د دوی د سیاسي هدف د یو والي ثبوت دئ. دغه سیاسي یو والی د وخت د حکومت د وارخطایی موجب سو چي مبادا د دولت بقا او پایښت ته خطر پېښ کړي، او د ایران د مصدق د ملي غورځنګ په څېر پېښه دلته هم رامنځ ته کړي، نو دولت د دغو ګوندونو د نشریو د مصادره کولو او د دغو ګوندونو د انحلال او د دیموکراسی د کمبلي د ټولېدو لپاره سیاسي پلمو او دسیسو ته اړتیا لرل څو بیا د زورواکی او اختناق توره پرده وغوړوي.

د پېښنو پیل :

د خدای بخښلي مدیر صاحب غلام جیلاني خان په وینا:

لومړی زموږ یو ملګری اروانباد محمدابراهیم خان خواخوږی چي د کندهار د پوهني مدیر وو د محمدیونس خان نائب الحکومه له خوا په کندهار کښي بندي سو او زموږ د ډلې لومړنی بندي وو چي حکومت بندي کړ. د اروانباد محمدرسول خان پښتون په مشري زه او اروانباد محمدانور خان اڅکزی، آغا محمد خان کرزی، محمد علي خان او خدای بخښلی عبدالهادي خان کابل ته ولاړو او خواخوږي صاحب مو د بنده خلاص کړ. د کابل څخه ډاکتر علي احمدخان او ډاکتر محمودي هم زموږ سره کندهار ته راغلل او په ویښو ځلمیانو کښي شامل سول. د کابل تر تللو دمخه ما د خپلې رسمي دندي څخه استعفا وکړه."

مرحوم مدیر صاحب غلام جیلاني خان زیاتوي :

"د ۱۳۳۰ ش کال په لومړیو وختو کښي اروانباد غلام حسن خان ساپی او اروانباد انګار صاحب چي زموږ د تکړه ملګرو څخه وو په کابل کښي بندیان سول چي ساپی صاحب تقریباً دوه کاله او انګار صاحب شپږ میاشتي بندي و. د ۱۳۳۱ ش کال د حمل پر لسمه زه او مرحوم محمدانورخان اڅکزی، مرحوم قاضی بهرام خان اڅکزی، مرحوم عبدالهادي خان توخی، مرحوم قاضي عبدالصمد خان او مرحوم محمدیوسف خان مجددي هم بندیان او کابل ته ولېږل سوو. تر موږ وروسته انګار صاحب، محمد علم بځرکی او محمد حسین خان د کندهار په عسکري چوڼی کښي بندیان سول او ویښ ځلمیانو د ګوند مشر مرحوم محمدرسول خان پښتون چي په بغلان کښي د انحصاراتو مدیر و هلته بندي سو. کله چي موږ د کابل په محبس کښي کوټه قلفه وو په دې وخت کښي زموږ یو بل ملګری حاجي خدای دوست هم زموږ محبس ته راوستل سو، او په دې ترتیب د کندهار څخه موږ یوولس تنه ویښ ځلمیان هلته سره یو ځای وو."

اروانباد مدیر صاحب د خپل حبس په دوران کښي د ځینو ملګرو فداکاري، سرتېریدنه، او ددوی پالنه په قدر داني یادوي چي په هغه عبارت دئ د :

علامه پوهاند رشاد صاحب، اوراښاد غلام دستګیرخان پوپل، اروانباد خواخوږي صاحب، ښاغلي محمد نور خان چي په هغه وخت کښي په دفاع وزارت کښي د پښتو د تدریساتو مدیر وو او بل یو کندهاری بلوك مشر و چي موږ په خپل ژوند نه و لیدلی فقط د وطنداری په روحیه یې په ډېر صداقت زموږ خدمت کاوه، زموږ د ملګرو څخه مرحوم حاجي خدای دوست اوه کاله بند وګالی او په هغه محبس کښي وفات سو، او جنازه یې ملګرو کندهار ته راوړل.

اروانباد بځرکی د مرحوم مدیر صاحب غلام جیلاني د پورته قول په تائید د حکومت دسیسې او توطئې په خپل اثر ویښ ځلمیان کښي د (د حکومت مداخلې) تر عنوان لاندي په ښه تفصیل بیان کړی او د کندهاري ویښ ځلمیانو د بند په باب ډېر ښه معلومات وړاندي کوي. وګورئ ۶۲ مخ _ ۹۲ مخ.

یوه بله پېښه چي د یادوني وړ ده هغه د ویښ ځلمیانو د مخکښ غلام حسن خان ساپي یادونه ده چي د ننګرهار د والي په خلاف یې یو مضمون په (ندای خلق) جریده کښي خپور کړ او په هغه وجهه بندي سو. ملګرو یې د ښاغلي میر غلام محمد غبار په کور کښي غونډه وکړه، او د سبا لپاره یې د مظاهرې پروګرام جوړ کړ، او لومړنی ډله ییز سیاسي احتجاج یې وکړ. د ویښ ځلمیانو په سیاسي تاریخ کښي یوه مهمه پېښه د ښاغلي طارق رشاد په وینا لویي جرګې ته د لوی استاد علامه پوهاند عبدالحي حبیبي کاندیدېدل، کامیابېدل، د پاکستان څخه د سیاسي پناه غوښتل او د جمهوریت اعلانول وو ...

خدای بخښلي مدیر صاحب جیلاني خان ویلي چي حبیبي صاحب د پارلمان انتخاباتو ته د کاندید په توګه د اقتصادي ستونزو له امله نه حاضرېدی ما هغه مجبوره کړ چي ځان کاندید کړي. دا وخت هغه په چمن کښي د سوداګرو وکیل (وکیل تجار) وو.

ښاغلی بخرکی وایي :

"حبیبي صاحب د کندهار له خوا په اوومه دوره کښي د ولسي جرګې لپاره کامیاب او پارلمان ته ولاړ، بالآخره د حکومت له خوا په مرګ تهدید سو او د پاکستان څخه یې سیاسي پناه حاصله کړه، هلته یې د جمهوریت بیرغ پورته کړ، او یو اخبار یې د (آزاد افغانستان) په نامه په پېښور کښي خپور کړ او په دې توګه لومړی جمهوري بیرغ هم په افغانستان کښي د ویښو ځلمو له خوا اعلان سو.

د کندهار په سیاسي تاریخ کښي د ویښو ځلمو اغېزه او د دوی د مبارزې نتیجه :

لکه څرنګه چي افغانستان د آسیا د لویې وچې سیاسي زړه تلقي کیږي کندهار د افغانستان سیاسي زړه بللای سو، نو د ویښو ځلمیانو سیاسي غورځنګ دلته رامنځ ته کېدل او د کندهاري مبارزینو فدا کاري، بندونه او محرومیتونه ګالل دا تصادفي خبري نه دي. زموږ اسلافو پخوا هم زموږ سیاسي تاریخ په خپلو وینو لیکلی دئ، په لومړی مشروطه غوښتنه کښي د خدای بخښلي محمدسرور واصف ، اروابناد عبدالقیوم خان (د واصف صاحب ورور) قرباني چي د وخت حکومت په توپ والوزول، د خدای بخښلي محمدایوب خان پوپلزي چارماري کېدل، په جلال آباد کښي، او د اروابناد سعدالله خان الکوزي شهادت، د مرحوم عبدالجلال خان (د صوفي فتو پلار) بندي کېدل، او په دوهمه مشروطه غوښتنه کښي د مرحوم غلام محی الدین افغان جمریانی (د صوفي د ورور لمسی دئ) د اروابناد کاکا سید احمد، اروابناد عبدالهادي خان داوي، او اروابناد عبدالرحمن لودین د ایثار او سرتېرېدني د کارنامو څخه رنګ او بوی موندلی دئ. نو ځکه دغو مېړنو هم د خپلو اسلافو په څېر د خپل تاریخي پور او فریضې په دود هیوادوال د رکود، خمود او جمود د درانه خوبه د راویښېدلو دندي ته ګمارل. څو ټولني ته یوه جټکه ورکړي، ټولنه د مدنی ژوند، دیموکراسی، علم او فرهنګ د ارزښتونو ته ځیر کړي. د خپلو حقوقو او خلکو او هیواد په وړاندي یې د خپلو دندو او وجایبو څخه باخبره کړي.

ویښ ځلمیانو یوازې د کندهار پر سیاسي تاریخ اغېزه نه ده ښندلې بلکي د هیواد په سطح را وروسته سیاسي غورځنګونه او حرکتونه هم د دغه ګوند زېږنده بللای سو. دغه ګوند د ډېرو لوړو ایډیالونو سره را منځ ته سو او ټولنه یې په سیاسي تیوري او علمي نړی لید سمباله کړه. زموږ سیاسي علمي او ادبي فرهنګ د دغه ګوند مخکښو سالارانو را غني کړ. د وطنپالني او نشنلزمویني یې د راوروسته نسلونو په رګو کښي یو وار بیا جاري کړه. که څه هم ځیني ځانګړتیاوې په دې ګوند کښي د یو شمېر لیکوالو د انتقاد سبب سوي دي، خو زما په فکر څرنګه چي دغه ګوند لومړنی سیاسي ګوند و او سیاسي

تجربې یې نه لرلې خو سره د هغه په خپل هدف کښي ډېري ښه برياوې تر لاسه کړي دي. او د هیواد په تاریخ کښي یې نېك نوم ګټلی دئ. نو ځکه نیمګړتیاوې یې په ښکښو کمرنګه کیږي.

د بده مرغه موږ ولیدل هغه ګوندونه چي په دې وروستو څو کلونو کښي رامنځ ته سول پر ځای ددې چي د عصر و زمان د تکامل پر بنیاد د ویښو ځلمیانو تر ګوند مترقی او متکامل وای او ټولني ته یې خیر او فلاح ور په برخه کړي وای، هغه ټول ددې ویرجن ملت د کور خرابی، ورور وژني، او د هیواد پلورني سبب سول. په پای کښي وایم د ویښ ځلمیانو ستر سوغات او لوی ارمغان زموږ همدغه ننني دیموکراسي او جمهوري نظام دئ چي تاداو یې هغو شاه ځلمو ایښی وو.

د هغوي یاد دې تلپاته او جاویدان وي.

http://www.benawa.com/webpages/kandahar/3/13.shtml